

# په تیاره کې جنګ

# شیعه او سنی څه فرق لري؟

لیکوال: آیت الله آصف محسني

د کتا ب ځانګړتیاوې
د کتاب نوم ------------- په تیاره کې جنګ ( شیعه او سني څه فرق لري؟)
لیکوال ------------- ایت الله محمد آصف محسني
چاپ ------------- دریم ۱۳۸۲ لمریز
شمیر ------------- زر ټوکه
د لومړي چاپ نیټه ------ د ۱۳٤۹ کال د کب میاشته دوه زره ټوکه
د دوهم چاپ نیټه -------- د ۱۳۷۲ کال د مرغومي میاشته مشهد درې زره ټوکه
پښتو ژباړه ------------- عبدالرحیم درانی
کمپوز ر --------------- عبدالرحیم درانی
خپرووونکیbokharanasim@yahoo.com ------------
د چاپ حق ------------- د ټولو خیر غواړو کسانو
Pashtoketabton

# لړلیک


لړلیک......3
دلومړي چاپ سریزه......5
د اتحاد معنا دا ده چې: ......5
د دریم چاپ سریزه......7
سریزه ......9
لومړی څپرکی ...... 12
په اسلام کې د مذهبونو د ډیر والي جرړه...... 12
دوهم څپرکی ...... 15
د شیعه او سني متفق موارد...... 15
الف : په عقایدو کې...... 15
ب : په فروعو کې...... 18
دریم څپرکی ...... 20
اختلافي موارد ...... 20
الف : عقاید. ...... 20


Pashtoketabton

ځلورم څپرکی........................................................ 22

نهو اختلافي مسلو ته بیا کتنه. .............................. 22

( د شیخ شلتوت لاسلیک )........................................ 31

ب : فقهي فروعات................................................ 32

پینځم څپرکی........................................................ 34

قضاوت ............................................................... 34

د اتحاد اساسي لاره .............................................. 36

خاتمه ................................................................. 37

شیعه دم ګړۍ د امامت له نظره درې فرقې لري. ........................ 37


Pashtoketabton

# دلومړي چاپ سريزه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله كفى والصلاة على عباده الذين اصطفى لا سيما على خاتمهم المصطفى و على آله النجباء واصحابه الاصفيا

ټول د پاک زړه مومنان د مسلمانانو يو والي غواړي او له اختلافونو او اوړدو شخړو ځوريږي، اوځينو کسانو په دې لاره کې ډير زحمتونه کړي دي او باوري دي چې په اوسنۍ نړۍ کې د مسلمانانو د تير برم او عزت ستنول بې له دې چې د هغه په اسبابو او لاملونو ځان پوه کړو نه ترلاسه کيږي. او يو لوي سبب يې د نړۍ د مسلمانانو اتحاد دی.

د اتحاد معنا دا نه ده چې د ډلو او وګړو په منځ کې دې هيڅ اختلاف نه وي او مونږ بايد په دې وسوسې اخته نه شو چې د اسلام د ټولو پيروانو فکري اختلافات له منځه يوسو ځکه چې دا کار غير ممکن دی. او زمونږ زحمت به ضايع شي او هيڅ ګټه نه ورکوي او ښايي حالت تر دې هم بد شي.

## د اتحاد معنا دا ده چې :

اول د نظر اختلافونه په صحيح ډول مشخص شي او اجماعي مسائل چې ټول پرې يوه خوله دي او مسلمانان يې مني معرفي شي. او تر وسه وسه د دواړو لورو ترمنځ موهوم اختلافات ختم شي.

دوهم. په مشترک او متفقو موردونو کې مخلصانه ملګرتيا وشي او په اختلافي چارو کې هر لوری د بل لوري د اعتقاداتو درناوی وکړي. او لږ تر لږه د يو بل سپکاوی ونه کړي. کيدی شي يو عالم په يوې خبرې عقيده ونه لري او حتی هغه

باطل وګڼي. خو کولاي شي په هغه معتقد کسان معذور وګڼي او د هغوي د عقیدو له سپکاوي ډډه وشي.

که مونږ دغو دوو خبرو ته پام ولرو نو خپل نهایي هدف ته چې د مسلمانانو اتحاد ی تر ډیره حده رسیدلای شو.

اوسنۍ کتاب د همدې موضوع د درملنې لپاره لیکل شوی دی چې اول د شیعه او سني اختلافي مسائل په دقیق ډول بیان کړي او دوهمه دا چې اختلافي مسائل بې له څه کمي او زیاتي روښانه کړي او په هغه وخت د پاک زړه مسلمانان پوهیږي چې موجودې بد بینۍ او رخې کینې ټولې غلطې او تیروتنې وې چې عامل یې مذهبونه نه بلکه جهالت یا د دښمنانو غرضي او خیانت پاره مداخله ده.

لیکوال له پاک رب غواړي چې له هغه سره په دې هدف کې مرسته وکړي او د ا کتاب د مسلمانانو د اتحاد وسیله وګرځوي.

انه دائم الفضل قدیم الاحسان.

Pashtoketabton

# د دریم چاپ سریزه

د لوی خدای په نامه

نن چې د دغه کتاب د دریم چاپ مقدمه لیکم، د کمیونزم حکومت چې په حقیقت کې د دغه کتاب د لومړي چاپ په وخت په افغانستان واکمن و له منځه تللی دی او د ځینو جهادي ګوندونو داخلي جنګونه چې د دغه کتاب د دوهم چاپ په وخت په کابل او دهیواد په ځینو سیمو کې روان وو له تېر وخت سره تعلق لري او حتی د طالبانو ظالمانه حکومت هم د تاریخ برخه ګرځیدلې ده. او اوس په افغانستان کې منځ مهاله اسلامي حکومت هیواد اداره کوي. په کلي او ټولیزه توګه د هیواد په زیاترو سیمو کې امنیت ټینګ دی خو هیواد او ولس په نورو مشکلاتو کې ښکیل دي. د اصلاحاتو په لویو وسایلو کې ، اقتصادي پراختیا، سیاسي وده د ملي امنیت پیاوړتیا د اداري نظام تقویت او د اوسنیو مشکلاتو په لیرې کولو کې څلورو لویو عواملو ته اشاره کولی شو.

ملي وحدت، ټولنیز عدالت، غوره واکي او عمومي بیداري،

د ملي وحدت یو لوی عامل له یو بله د شیعو او سنیانو سمه پیژندنه او شناخت دی چې د مسلمانو دغه دوه ډلې په تیاره کې له یو بل سره په جنګ او بد بینۍ بوختې نه وي او په مینه او ورورولۍ سره دهیواد په بیا رغاونه او د اسلام په خپراوي کې له یوبل سره ملګرتیا وکړي.

د دغه کتاب دریم چاپ چې د ډېرو وطنوالو خوښ شوی دی په همدې خاطر تر سره کیږي خو په دوو توپیرونو سره، اول دا چې د هغه د زاړه نوم په ځای ( د شیعه او سني څه فرق دی) دې ته مو په تیاره کې د جنګ نوم خوښ کړی دی. دوهمه داچې د کتاب په اخره کې زما یوه بله رساله هم ( مقام اهل البیت وصحابه ) ورزیاته شوې ده چې لوستونکو ته ډېره فایده ورسوي .

دا رساله د دیارلس سوه دوه اتیام لمریز کال د وري د میاشتې په وروستیو دریو ورځو کې لیکل شوې ده. خداي تعالی دې خپل خاص توفیقات زمونږ د ټولو په برخه کړي.

کابل

۱۱ \ ۲\۱۳۸۲

محمد اصف محسني

Pashtoketabton

# سریزه

د نړۍ په مسلمانانو کې د موجودو اختلافاتو یا لږ تر لږه له یو بله د هغوي د لیرې کیدو عوامل په څلور ډوله دي.

۱ : توکمیز، لکه عرب، ترک فارس او داسې نور

۲ : سیاسي ، لکه ایراني انډونیشین، پاکستاني، مصري ، افغاني وغیره، او دغه اختلاف ته نیشنلستي او ملي پال اختلاف هم ویلی شو.

۳ : قومي او قبیله اي، چې په ډیرو اسلامي ټولنو کې لیدل کیږي.

٤ : مذهبي

که اسلامي تربیت د پوهانو او عالمانو د تبلیغاتو په وسیله پیاوړی شي د اول او دوهم ډول اختلاف مخه نیول کیدی شي او تر ډیره حده کولاي شو هغه کنټرول کړو او په تیرو وختونو کې زمونږ تجربه هم د دې خبرې ګواه ده.

د دوهم عامل د علاج لاره هم د غیر اسلامي او حتی موجودو ضد اسلامي دولتونو د ختمولو لپاره پرله پسې مبارزه ده. چې د دغه ډول دولتونو په وجود سره مسلمانان هیڅکله نه نیکمرغه کیږي. او همدا حکومتونه د ریډیو ټیلي ویژن ورځپاڼو مجلاتو او داسې نورو څیزونو په وسیله د خپلې بقا او داستعمار او استثمار په ګټه په مسلمانانو کې اختلافاتو ته لمنه وهي. د اسلام یو ملیاردي نړۍ د موجودوتر څلویښتو دولتونو او هیوادونو د زیات زغم نه لري چې د ځینو هیوادونو نفوس یو ملیون تنو ته هم نه رسیږي. او دا اوسني تقسیمات د دښمنانو او د شهوت پرستو او هوسبازو عناصرو لوبتکه ده.

اسلامي نړۍ باید لږ ترلږه پنځه یا شپږ لوي هیوادونه او اسلامي دولتونه ولري او ټول واړه هیوادونه په دغو څو لویو هیوادونو کې ورځاي شي چې مسلمانان خوشبخته شي او تر څو چې د بد مرغۍ په جرړې یعنې په موجودو حکومتونه کې بیا کتنه ونه شي زمونږ د ټولو خیر غواړو نظریې او اصلاحي عملونه به چټې وي

اوس په لنډه توګه داسلامي نړۍ د اوسنیو دولتونو د زیات شمیر تاوانونو ته اشاره کوو.

۱ : د لویو دولتونو په وسیله د هغوي زبېښاک

۲ : وړو دولتونو ته دهغوي د ګاونډیو دولتونو ټمه.

۳ د دښمنۍ او لږ ترلږه په مسلمانانو کې بې ځایه لیرې والی چې د یو بل دیني وروڼه دي خو په چټې نومونو له یو بله لیرې شوي دي

٤ : د رغنده ځواکونو له ملګرتیا مخنیوی او په نتیجه کې د اسلامي نړۍ شاته پاتې والی.

٥ : په ځینو وړو هیوادونو کې د شتو او دولت ټمرکز او دهغوي د یو ملیون یا څو لکو نفوسو د اخلاقو فساد او د ځینو اسلامي هیوادونو لکه بنګله دیش او افغانستان او ځینو افریقایي هیوادونو فقیر پاتې کیدل، حال دا چې د اسلامي هیوادونو شتمني د ټولې نړۍ د مسلمانانو حق دی چې باید په عادلانه ډول وویشل شي.

هو، د تیلو کویان او د اسلامي نړۍ لوي معدنونه د نړۍ د ټولو مسلمانانو مال دی نه د ځینو هیوادونو،

٦ :د فردي ټولنیزو او سیاسي ازادیو له منځه تلل.

٧ : په اسلامي ټولنو کې د فاسدو نا اهلو، بې کفایته او ظالمو حکومتونو جوړیدل.

٨ : د مسلمانانو په اصلي شئوناتو د دولت  د لګولو په ځاي  د دولتونو سفارتونو او احمقانه دولتي تشکیلاتو د هغه  لګیدل.

٩ : په  پاسپورټ، درنو مالیاتو او داسې نورو مسائلو د مسلمانانو اخته کیدل.

١٠  : په احمقانه نومونو په مسلمانو کې د جنګونو کیدل، .

ان هذه امتکم امة واحده و انا ربکم فاعبدون

د څلورم ډول اصلاح چې له پخوا راهسې ورته عالمانو پام درلود  زما د دغه لیکنې سبب شوې ده، چې په پینځو څپرکو او یوي پایلې سره تاسو ته وړاندې کیږي. او په دې هیله یم چې د اسلامي امت له سره د پردیو خونړیو او جاه طلبه او بې سواده کسانو شر کم شي.

# لومړی څپرکی

## په اسلام کې د مذهبونو د ډېر والي جرړه.

ټولوته پته ده چې اسلام د قران مجید او د پیغمبر د سنتو مطابق جوړ شوی دی او د عقایدو اخلاقو، سیاست، اقتصاد، اجتماع، او عبادتونو وغیره سرچینه همدا دوه څیزونه دي او مسلمانان هم بې له استثنا کتاب او سنت مني  نو بیا اختلاف ولې لري ؟ اول د پیغمبر له وفاته وروسته د هغه په ځاي ناستي او جانشین کې اختلاف. څینو ویل چې رسو ل الله مبارک په دې اړه کوم خاص کس نه  دی په ګوته کړی او دا چاره یې پخپله مسلمانانو ته پریښې ده او  د دې په اساس صحابه سملاسي په سقیفه بني ساعده کې راټول شول او یو کس یې د خلیفه په توګه وټاکه.

څینې په دې باور وو چې هغه حضرت خپل وصي خلکو ته معرفي کړ او باید دهغه له صریح امره سر غړوه ونه شي.

دا اختلاف په هغه وخت کې څنګه ارزیابي کیده په دې هکله دقیقه اطلاع نیشته ( ۱) خو ورسته یې بیا  پراخ اړخونه پیدا کړل. او په خطرناک شکل په اسلامي ټولنه کې مطرح شو، چې ناوړه اثار یې تر ننه محسوس دي. او له همدې ځایه تشیع او تسنن د اسلام د دین په سمندر کې د دوو  سیندونو په شان روان شول.

دوهم قران او سنت باید د مسلمانانو د استفادې او استنباط وړ ګرځیداي. او البته چې له دغه دوو د مسلمانانو برداشت یو شان نه و او هر ې ډلې د خپل استعداد او پوهې مطابق له قرانه او سنته استفاده او استنباط کاوه. او په دې ډول په فقه کې په فروعو کې اختلافات پیدا شول. او اسلامي مذهبونه جوړ شول

د سنت مشکله په هکله دهغه اثبات هم مطرح دی. مثلا یوه موضوع چې په یو روایت کې نقل شوې ده د ځینو عالمانو په نزد اثبات ته رسیده چې عمل پرې واجب و خو همدغه حدیث د نورو عالمانو لپاره یا نه و رسیدلاي یا په معتبر ډول نه و رسیدلی. چې په دې ډول یې حجت نه درلود او عمل پر ې نه دی شوی. البته یو دریم عامل هم په نظر کې نیولی شو او باید سترګې پرې پټې نه کړو او هغه د هغه وخت سیاسي اواجتماعي حالاتو ته په پام سره د عالمانو او پوهانو انساني احساست دي..

زمونږ مستنبطه عالمان غالبا عام سړي وو خو له اسلام سره یې مینه ا و محبت درلود. خو هغوي سل په سله کې له احساساتواو عواطفو لیرې نه شو ګڼلی. ځکه چې غلو او مبالغه انسان د حقیقت له لارې لیرې کوي.

هو، د ډیرو مذهبونو د جوړیدو علت همدا له قران او سنته په استنباط کې اختلاف او دهغه وختونو په سیاسي او اجتماعي شرایطو کې انساني احساست وو. چې باید غیر طبیعي او حیرانوونکی څیز ونه ګڼل شي. ځکه چې دا دوه څیزونه ( فکري تفاوت او احساسات او د چاپیریال اثر ) د انسان په ژوند کې و او وي به. او د غیر معصوم انسان د طبیعت نه جدا کیدونکې برخه ده.

خو هغه څه چې سرخوږی یې زیات کړ او د بدبختۍ او وینه بهیدلو عامل وګرځیده دوه نورې خبرې وې:

اول د عوامو او د ملا او پیر او عالم او مرشد په نامه د کم سوادو مشرانو وچ او احمقانه تعصبات چې جزئي مذهبي اختلافات یې لوي کړل او د دښمني بد بینۍ او حتي د داخلي جنګونو سبب شول او مسلمانان یې تباهۍ ته وکارول.

البته تعصب که له مذهب سره د محبت په معنا وي باک نه لري. او مخه یې هم نه شي نیول کیدای. خو که له نورو مذهبونو سره د عداوت په معنا وي

نو خطرناک کیږي. او د دغه تعصب سبب دوه شیزونه ده. یو جهالت او کم علمي او بل هم استفاده جویي او په بې خبره او غافله عوامو د حاکمیت او نفس مطرح کول.

دوهم هم د ښکیلاک او زبیښاک او د ملتونو د داخلي صفونو د کمزورۍ کولو لپاره د لویو هیوادونو مداخله. او له مذهبي اختلافونو استفاده تر ټولو ښه تجربه شوې لاره ده او حتي کله کله حکومتونو هم د خپل ځان د مزبوتولو لپاهر له دغه لارې استفاده کوله. او له مذهبه یې د سیاست لپاره کار اخسته. او اخلي تر دې خواشینوونکې دا چې دا دوه چارې ( تعصبات او د دولتونو مداخلې ) یوازې د واقعي مذهبي اختلافونو په بیانولو اکتفا ونه کړه بلکه تر خپله وسه یې له دروغو، تورونو افترا، او د دروغو له جوړولو هم کار واخسته. او غافله مسلمانان یې په یو بل ورواچول. او مونږ د کلام د اوږدیدو له ویرې د مثالونو له راړولو ډډه کوو. ځکه چې ځینې یې ډیره دخندا وړ دي مثلا دا چې د پلانکي مذهب لرونکي لکۍ لري او د پلانکي مذهب کسان د مړي په دبر کې لرګی منډي. ؟؟؟

# دوهم څپرکی

## د شیعه او سني متفق موارد

### الف: په عقایدو کې

۱ _ د نړۍ پنځوونکی او مدبر، خداي تعالی دی.

۲ : یوازې خداي تعالی معبود دی او بې له هغه د بل چا عبادت شرک دی او له اسلامه وتل دي.

۳ : خداي تعالی، شریک او سیال نه لري.

٤ : د خداي تعالی ذات د درک کیدو وړ نه دی.

٥ : خداي تعالی ازلي اوا بدي او تل پاتې دی.

٦ :خداي تعالی. عالم، قادر مرید. مختار، سمیع، بصیر، او د ټولو څیزنو مدرک دی.

۷ : ټول موجودات د خداي تعالی مخلوق دی.

۸ : خداي تعالی ژوندی دی.

۹. :خداي تعالی متکلم او صادق دی.

۱۰ : خداي تعالی له اجزاوو نه دی جوړ.

۱۱ : خداي تعالی جسم او جسماني نه دی. ( ۱(

۱۲ : خداي تعالی محل حوادث نه دی.

۱۳ : له مخلوقاتو سره یو او متحد نه دی، بلکه دهغه وجود له مخلوقاتو جدا وجود دی.

۱٤ : خداي تعالی په کوم څیز کې حلول نه کوي.

۱۵ : خدای تعالی له هر څه بې نیازه او غني دی.

۱٦ : ټول مخلوقات خداي تعالی ته محتاجه دي.

۱۷ : هغه څه چې په قران او سنت کې دخداي په ستاینه کې راغلي دي صحیح دي.

۱۸ : عرش ا و کرسي او لوح محفوظ په حقه دي.

۱۹ : د ملایکو، اسماني کتابونو په تیره بیا په رسو ل الله مبارک د نازل شوي کتاب قران تصدیق کوو.

۲۰ :په انبیاوو وحي حق ده. او له رسول الله مبارکه وروسته وحي غوڅه شوې ده.

۲۱ : قران د خداي کلام دی او عمل پرې ضروري دی او سنت نبوي په ټولو زمانو کې په مسلمانانو معتبر او حجت دی.

۲۲ : اسلام نړیوال دن دی او د دنیا تر اخره الهي دین ګڼل کیږي. او له اسلامه پرته ټول دینونه منسوخ دي او عمل پرې نه شي کیداي. ( ان الدین عند الله الاسلام(

۲۳ : خداي تعالی په خپلو بندګانوظلم نه کوي.

۲۴ :خداي تعالی د انسانانو دهدایت لپاره  پاک انسانان غوره کړي دي او هغوي ته یې نبوت ورکړی دی، او د خلکو لپاره یې انبیا اورسولان مبعوث کړي دي او په هغوي ایې اسماني شریعتونه نازل کړي دي.

۲۵ : ټول انبیاء په قرب او مقام کې یو شان نه دي ځینې یې  تر نورو لوړ دي ( تلک الرسل فضلنا بعضهم علی بعض(

۲٦ :لانفرق بین احد من رسله، ټول انبیاء د تصدیق او درناوي وړ دي.

۲۷ :ځیني نبیان اوالعزم دي. (۱ (

۲۸ :د وخت تیریدو هیڅکله په اسلامي شریعت  کې بدلون نه دی راوستی او نه یې شي راوستلی. او هغه څه چې اسلام یې امر کړی باید تر ابده پرې پابند ووسو.

۲۹ :د قیامت ورځ، سوال جواب او میزان په حقه دي او ټول انسان به د قیامت په ورځ محشر کیږي.

۳۰ :معاد یوازې روحاني نه دی بلکه جسماني دی.

۳۱ :بهشت د مومنانو او دوزخ د مخالفو کفارو لپاره دی او دواړه ډلې مخلدې دی.

۳۲ : هغه څه چې په قران کې د دوزخ د عداب او د جنت د نعمتونو په هکله راغلي دي په حقه دي.

۳۳ :عالم برزخ حق دی.

٣٤ : شفاعت صحیح دی.

٣٥ : هغه څه چې په قران کې د برزخ په هکله راغلي دي صحیح دې.

٣٦ :د قیامت منکر مسلمان نه ګڼل کیږي.

٣٧ :د مسلمان ځان او مال محترم دی او تیری پرې جایز نه د ی .

٣٨ : په کلمه شهادتین ( توحید او رسالت ) ا و د هغه څۀ په سموالي چې رسول الله مبارک راوړي دي اعتراف او اقرار ضروري دی.

٣٩ : خداي تعالی ژوندی کوونکی او مړوونکی دی او هر یو کس یو اجل لري او رازق خداي تعالی دی.

٤٠ : د انبیاوو معجزې او د اولیاوو کرامتونه په حقه دي.

**ب : په فروعو کې**

١ : په څلور وریشتو ساعتونو کې پنځه لمونځونه ( اولس رکعته ) فرض دي : دوه د سهار، څلور د ماسپښین، څلور د مازیګر، درې د ماښام او څلور د ماسخوتن، په طهارت او نورو شرطونو سره.

٢ : په لمانځه او د مړو په ښخولو او داسې نورو ځیزنو کې د قبلې خیال ساتل ضروري دي.

٣ : په مړي لمونځ واجب دی.

٤ : په هر کال کې د رمضان د روژو نیول.واجب دي.

٥ : زکات او زکات فطره واجب دي.

٦ : په هر مستطیع کس د حج کول واجب دي.

٧ : د غنیمت او نورو ځینو څیزنو خمس ورکول واجب دي.

٨ : د اسلام د دفاع او ترویج لپاره جهاد واجب دی. ٩

٩ : امر بالمعروف او نهي عن المنکر واجب دي.

١٠ : د مړي تجهیزات لکه غسل ، کفن او ښخول واجب دي.

١١ : د سلام ځواب واجب او کول یې مستحب دي.

١٢ : په نورو بد ګمانی کول غیبت.، ښکنځلي او سپکاوی حرام دی.

١٣ : ریا، ربا،ظلم او غصب او قتل حرام دي.

١٤ : زنا، لواط او ځینې مقدمې یې حرامې دي.

١٥ له نامحرمو حجاب کول ضروروي دي.

١٦ : د بیع، اجارې او مضاربې او داسې نورو معاملو کول صحیح دي.

١٧ : د زوجیت لپاره نکاح کول او د طلاق په وسیله د هغې ختمیدل او د طلاق کړې ښځې لپاره د عدې ساتل ضروري دي،

١٨ : د قصاص، دیت زمانات او داسې نورو حدودو اجرا ضروري ده.

١٩ : د قران او سنت مطابق د میراث ویشل.

او داسې نور په لسګونو موردونه چې واجبات او محرمات او وضعي احکام دي چې دلته یې راوړل کلام اوږدوي .

Pashtoketabton

# دریم څپرکی

## اختلافي موارد

### الف : عقاید

د اسلامي عقایدو په اصولو کې الحمد لله د شیعه او سني تر منځ اختلاف نیشته او یوازې په یو څو جزیي موردونو کې او د عقایدو په څانګو کې د نظر اختلاف موجود دی چې هغه څه چې زما ذهن ته راځي دلته یې لیکم.

۱ : د خدای تعالی د تکلم په تفسیر کې اختلاف.

۲ : په دې کې اختلاف چې مومنان به خدای تعالی په قیامت کې ویني او که نه.

اشاعره ( د اهل سنتو اکثریت )وایي چې هو، مومنان به خدای ویني، خو شیعه او د اهل سنتو یوه ډله ( معتزله او ځینې اشاعره لکه فرید او جدي ) او فلسفیان نه یوازې د خدای په نه لیدل کیدو عقیده لري بلکه وایي چې دا کار بلکل محال دی.

۳ : د خدای تعالی ذاتي صفات لکه علم او قدرت او حیات وغیره ایا د خدای تعالی عین ذات دي او که نه دهغه پر ذات سر بیره دي. شیعو اوله نظریه خپله کړې ده او اهل سنت په دې مسله کې اختلاف لري. او اکثره اشاعره هغه پر ذات زاید ګڼي.

٤ : د شیعه او سني مسلمانانو تر مینځ مشهوره دا ده چې په قران مجید کې تحریف نه دی شوی یعني د هغه په سورو کې کمی زیاتی نه دی شوی خو ډیرو لږو کسانو دا خیال کړی دی چې د قران ځنې ایتونه کم شوي دي او د

دغه خیال مدرک هغه روایتونه دي چې د شیعه او سنیانو په کتابونو کې راغلي دي خو د دواړو لورو اکثرو عالمانو او پوهانو دغو روایتونو ته  پام نه دی کړی او د هغو ځواب یې ورکړی دی. ( و انا له لحافظون )

۵ : هغه روایتونه چې په معتبرو سندونو له  رسول الله مبارکه نقل شوي دي د دواړو لورو په اتفاق حجت دي خو د ځینو راویانو په هکله د دواړو لورو په علماوو کې اختلاف دی چې یوه ډله ځینې رو‌ایان رښتیني ګڼي او ځینې  یې دورغجن او کاذب  یا مجهول. او دا اختلاف پخپله د اهل سنتو د علم رجال په عالمانو کې اود شیعو د علم رجال په عالمانو کې هم موجود دی.

٦ : ایا ا صحاب ټول عادل دي که نه. چې اهل سنت په دې خبره قائل دي او شیعه وایي چې ځینې ېې ښه دي او ځینې یې ښه نه دي. دا یو لوی او جنجالي بحث دی چې دلته نه ځاییږي.

۷ : د پیغمبر جانشیني چې اهل سنت یې د څلورو خلیفه ګانو لپاره قایل دي او شیعه وایي چې د پیغمبر له اهل بیتو دولس کسان د پیغمبر اصلي ځاي ناستي دي.

۸ : د انسان په خپلو کارونو کې د جبر او اختیار مسله. امامیه فرقه انسان مختار ګڼي او اشاعره د انسان کارونه دخداي لخوا صادر شوي او انسان کاسب ګڼي.

۹ : مشهور اهل سنت عالمان لازمه ګڼي چې عام مسلمانان باید په فقهي مسائلو کې د څلورو مذهبونو له  یو امامه ( ابو حنیفه، امام مالک بن انس، محمد بن ادریس شافعي، او احمد بن حنبل  رحمهم الله ) پیروي وکړي  نه له نورو مذهبونو، حال دا چې شیعه وایي چې باید د دولسو امامانو چې اهل بیت ( علیهم السلام ) دي پیروي وشي.

# څلورم څپرکی

## نهو اختلافي مسلو ته بیا کتنه

١ : اول مورد ډیر مهم نه دی دخداي لپاره د تکلم صفت اصل مسله ده او د هغه دمعنا تفسیر ډیر جزیي او علمي دی چې قابل اعتماد نه دی

٢ :دوهم مورد د قیامت و رځې ته پریږدو په دنیا کې ټول مني چې خداي نه لیدل کیږي.

٣ :د ذاتي صفتونو عینیت یا په ذات د هغو زیاتوالی سره له هغه ټول اهمیته چې لري یې یوه کاملا عملي مسله ده چې د عوامو فکر ورته نه رسیږي او د خلکو د تعصب او نزاع سرچینه نه ګرځي. نو هغه د علم کلام کتابونو ته پریږدو.

٤ : د څلورم مورد په باب باید حیرانه شو، چې د دواړو لورو مشهور پوهان د قران مجید په نه تحریف او حفاظت قائل دي او د تحریف په هکله راغلي روایتونه نه مني. او اهل سنت د تحریف په هکله ډیر راغلي روایتونه په تلاوت کې په نسخ حمل کوي. او شیعه علما د تحریف روایتونه توجیه کوي. او ټول په دې ټینګار لري چې قران همدا ننني قران دی او په هغه ویاړي. خو یو څو غرضي کسان او بې سواده ټینګار کوي چې مقابل لوری په تحریف په عقیدې تورن کړي، او په یو عربي هیواد کې د ځینو افراطیانو رول په دې مسله کې ډیر

مخرب او ویجاړوونکی  دی. حتي ځینې ادعا لري چې د شیعه وو قران دیرش سیپارې نه دی بلکه څلویښت سیپارې دی.!!!

په رښتیا سره چې ډیره  د حیرانۍ خبره ده قران مجید کابو د ټولو  شیعه او سني مسلمانانو په کور کې شته دی او د ایران او عراق په شمول یې په ټولو اسلامي هیوادونو کې په ملیونونو نسخې چاپ شوي دي او زه قسم  خورم  چې یو شیعه به هم تر ننه پورې څلویښت سیپارې قران  نه وي لیدلی. خو د افتراء او تور لګولو بازار هماغه راز ګرم دی. او یو شمیر  ګټه غواړي هماغه راز د عوامو په غولولو لګیا دي او باید د مسلمانانو په بد بختۍ وژاړو.پوه مسلمانان باید له دې خبر ې عبرت واخلي چې دروغجن کسان څرنګه موهومي اختلافات پنځوي او خلک پرې مشغولوي. او دا دومره سپکاوونکی خیانت د تعصب  له مخې یا د یو څو پیسو لپاره کوي. ایا مصلح پوهان باید د دغو دین پلورانو دوکان بند نه کړي.

۵ :د پنځم مورد په هکله وایم، اهل سنتو  له خپلې لارې   وارد شوي روایتونه په صحاح سته او داسې نورو کتابونو کې راغونډ کړي دي او شیعو خپل روایتونه د اهل بیتو له لارې په کتب اربعه ( څلورګونو کتابونو ) او داسې نورو کې راغونډ کړي دي، او هر یو د بل لوري په لارې عمل نه کوي او د فقهي اختلافاتو لوي علت همدا دی.

خو  هغه څه چې په دې مورد کې یې بیانولی شو دا دي چې دا لوي اختلافات یوازې د اسنادو او روایتونو په طریق کې  دي چې له علم  رجال سره مربوطیږي. نه په خپله روایتونو کې. ځکه چې په خپله په  روایتونو کې اختلاف دومره زیات نه دی بلکه لږ دی.

ډیر مطالب اهل سنتو د خپلو راویانو له لارې د پیغمبر له اصحابو نقل کړي دي چې شیعو همدا مطالب دخپلو راویانو له لارې له اهلبیت امامانو نقل کړې

دي. چې که يوه ورځ عالمان دشيعه او سنيانو هغه روايتونه چې په معنا کې سره نزدې دي راغونډ کړي ډير زيات به وي. او ډير ښه کار دی. نو بايد دوکه نه شو چې د شيعه او سني د روايتونو کتابونه د راغونډيدو وړ نه دي او ډير اختلاف لري. او بايد توجه ولرو چې د روايتونو د سند اختلاف د روايتونو په معنو کې له اختلافه جدا دي او اصل خبره دوهمه ده چې ومو ويل په معنا او مطلب کې له يو بله ډير ليرې نه دي.

ما ښايي په ۱۳۵۵ لمريز کال کې په ژوند کې د دين د فايد و په نامه يو کتاب وليکه چې په کابل کې په بيهقي موسسې کې له چاپه مخکې پرې غور وشو. او ما په دغه کتاب کې د شيعو له لارې له امام محمد باقر او امام جعفر صادقه ( عليهما السلام ) نه ډير روايتونه نقل کړي وو چې په دغه کتاب د بيهقي موسسې يو اعتراض دا و چې تاسو نبوي روايتونه له امام محمد باقراو امام صادقه (س) نقل کړي دي نه پخپله له پيغمبره. زه په هغه وخت کې متوجې شوم چې د شيعه او سني روايتونو ترمينځ څومره نزدی والی موجود دی.چې حتی په الفاظو کې هم ديو بل په شان دي. اخر له بيهقي موسسې سره له مشورې وروسته يې له اهل بيتو څخه روايت شوي روايتونه د يوې جملې په اضافې سره ومنل. ( امام جعفر صادق له نبوي احاديثو نقل کړی ) چې د اهل سنت عالمانو له نظر سره چې روايتونه پخپله له رسول الله مبارکه نقلوي مطابقت ولري. ما ددغه جملې اضافه کول ومنل.ځکه چې باوري وم چې اهل البيتو هر څه ويلي دي د رسول الله مبارک له سنتو يې ويلي دي او په دې هکله امام صادق عليه السلام فرمايي چې زه اهل راي نه يم او هر څه چې وايم له خپلو پلرونو او هغوي يې له رسو ل الله وايي. زه بيا هم د مقارنې فقې او مقارنو حديثونو په جوړولو ټينګار کوم چې د شيعه او سني د اتحاد اساس دی.

٦ :په شپږم مورد کې چې د اصحابو(رض) عدالت دی پخپله په ا هل سنتو کې مختلف اقوال موجود دي چې ابن ابي الحديد معتزلي هغه د نهج البلاغې په

شرحي کې په تفصيل او په دلايلو او شواهدو ذکر کړي دي. ځینې ټول اصحاب عادل نه ګڼي بلکه وايي چې اصل په اصحابو کې عدالت دی ( اصالة العداله ) مګر دا چې دهغه په خلاف ثابت شي.

شيعه علما وايي د اصحابو په عدالت کې باید د هر فرد په عمل او ژوند غور او خوض وشي او بيا قضاوت پکار دی زما په نظر چې په ( بحوث في علم الرجال ) کتاب کې مې ذکر کړی چې په قران مجيد کې اصالة العداله د مهاجرينو په حق کې په لومړي ځل استعمال شو ی دی.

په دې لاره کې د ټولنيزې اصلاح لاره دا ده چې دواړه لوري له افراط او تفريطه ( غلو او بد و ينې ) ډډه وکړي او مشهور اصحاب په ښه نامه ياد کړي. او يزيد او دهغه په شان کسان تر امام حسينه غوره ونه ګڼي. ( و کذالک جعلناکم امة وسطا (

سنيان باید د پيغمبر د اهل بيتو او دولسو امامانو په نسبت بې مهري ونه ښيي او د هغوي له ذکر او فضائلو خپه نه شي.

وهابيان نن حتی دهغوي په توهين کې ليکنې کوي او د مثال په توګه الشيعه والسنة کتاب ته مراجعه وشي حال دا چې اهل سنت پوهان په اجماع سره د اهل بيتو محبت واجب ګڼي.

ځينو کسانو د يزيد شمر او داسې نورو کسانو په دفاع کې کتابونه ليکلي دي. ځينې وايي حضرت حسين د خپل نيکه په توره ووژل شو. ( نعوذ بالله منه (

شيعه هم باید خلفاي راشدين ته بد رد ونه وايي ځکه چې د دغه بد ګويۍ يوه پايله په مسلمانانو کې د کينې او دښمنۍ دوديدل دي. او د پرديو مداخله. زه دلته خلفاي راشدينو ته ښکنځل کول د ټولو شيعو لپاره حرام اعلانوم او په

دې حکم کې زه یوازې نه یم. او ډېر شیعه علماء هغه مني. شیعه عوام باید متوجې وي چې د شیعوو د فتواګانو په ټولو کتابونو( د مجتهدانو په توضیح المسائل )کې وګورئ اصحابو ته د بدو ردو د ویل اجازه نه ده ورکړل شوې. دا لا څه چې مونږ ووایو بد ویل یې ښه کار دی.

د عامي او تاریخي بحثونو نتیجه چې هر څه وي باید پوه شو چې په مسلمانو کې د جنګ دښمنۍ او خونریزۍ جوړل او حتی د اسلام کمزورې کول په هره نامه چې وي لوي حرام کار دی او مسلمانان باید په شیطان ونه غولیږي.

د مسلمانانو د اتحاد تر ټولو ښه لاره د یو بل د عقیدو او مذهبونو احترام دی او د یو بل د احساساتو له تحریکولو ډډه کول.

یو شیعه به د امام ابو حنیفه په فتوا عمل و نه کړي او یو سني کس هم د امام صادق په نظر عمل نه کوي خو د ملیونو نو مسلمانو د امامانو په توګه د امام ابو حنیفه اوامام صادق درناوی باید لازم وي. او باید د اسلام علمي شخصیتونو ته سپکاوی ونه شي او د یو بل د احساساتو ژوبلول نه دي پکار. ځکه چې دا یو جاهلانه او غلط عمل دی. په اروا پوهنه کې وایي چې د فرد اثر د اصل تر اثره زیات دی. عملي اختلاف، په اصل کې اختلاف دی چې د نزاع او وینه بهیولو منشا نه ګرځي. خو د اشخاصو په هکله اختلاف د فرد په هکله اختلاف دی او کړکیچ پیدا کوي. نو په دې مسله کې باید ډېر دقیق او محتاط شو او د مذهبونو د مشرانو او امامانو له سپکاوي باید ډډه وکړو. خداي تعالی په قران مجید کې مسلمانانو ته امر کوي چې دکافرانو خدایانو ته بد مه وایئ چې هغوي د نړۍ پنځګر ته بد ونه وایي. ایا مسلمانان باید له دغه حکیمانه حکمه په خپل داخلي ژوند کې استفاده ونه کړي. ؟!

۷ : د شیعه او سني تر مینځ د اختلاف تر ټولو جنجالي خبره د خلافت مسله ده چې د اسلام له لومړیو تر اوسه روانه ده چې کاش ادامه یې نه وې لرلی. او

مسلمانان له دغه اختلافه ژغورل شوي واي. اهل سنت وايي چې له رسول الله مبارکه د چا د جانشینۍ په هکله نص نه دی راغلی خلکو حضرت ابو بکر د خلیفه په توګه انتخاب کړ او بیا درې تنه نور، او خلیفه ګان څلور کسان دي چې خلفاي راشدين دي. او په اصحابو کې افضل دي.

شيعه په دې عقيده لري چې امامت هم د نبوت په شان فردي دی نه نوعي، يعنې دخدای له لورې انتصابي دی نه انتخابي. او له رسول الله مبارکه د حضرت علي (ع) د جانشینۍ په هکله ډير نصوص راغلي دي چې له هغه وروسته امامت د هغوي يو لسو بچيانو ته ورسيد چې پيروي يې واجبه ده.

د دې خبرې په هکله تاريخي او علمي بحث په دې کتاب کې نه ځايېږي او زمونږ له مطلب سره هم اړه نه لري او هغه څه چې په دې وړې رسالې کې د پام وړ دي هغه مصالحه او روغه ده چې بايد دواړه لوري يې پيدا کړي. چې نزاع او بد بيني کمه شي او يو بل ته نزدې شي. او په اختلاف کې له مبالغې ډډه وکړي.

اول دا چې خلافت د اهل سنتو په نظر کې له فروعاتو دی نه له اصولو، نو مخالف يې نه کافر کيږي. فرض کړئ.اختلاف نه حليدونکې وي خو په يوې فرعي مسلې پورې مر بوط دی چې بايد له حوصلې کار واخستل شي ( للمصيب اجران و للمخطئ اجرا واحد ) هغه کس چې حقيقت ته ورسيد دوه اجره لري او چا چې غلطي وکړه يو اجر لري. او بايد يو بل معذور وګڼو.

دوهمه داچې : که د تعصب له دوړو راووځو ګورو چې شيعه د خلفاي راشدينو د خلافت انکار نه کوي او ټول په دې اعتراف کوي چې د رسو ل الله مبارک له

وفاته  وروسته خلکو له حضرت ابي بکر (رض) سره بیعت وکړ اوبیا له دوهم دریم او  څلورم سره.

او اساسا دا خبره  له تاریخي واضحاتو څخه ده او انکار یې نه  شي کیداي اهل سنت خلافت  دخداي لخوا انتصابي او منصوص نه ګڼي. چې په مسله کې اختلاف پیدا شي بلکه تکیه یې د خلکو په بیعت ده. چې څو ک یې منکې نه دي.

نو په  دې اساس شیعه د اهل سنتو د  ادعا انکار نه کوي او کولاي هم نه شي نو اهل سنت باید له دې امله اندیښمن نه وي.

شیعو ته وایو هغه نصوص  چې  تاسو یې یادوئ ښـایي د اهل سنتو په نظر د دلالت له اړخه نیمګړي وګڼل شي. ؟ نو تاسو هغوي له امامانو د پیروۍ په نه کولو کې معذور وګڼئ.

ایا پخپله په  عالمانو کې اختلاف نیشته ؟

جاهل په دوه ډوله دی. قاصر او مقصر. دوهم سزا او  غندنه لري او اول د عقل او شرعي په حکم معذور  دی

یو زر څلور سره کاله له مسلې تیریږي حتی د عالمانو او پوهانو لپاره د حق تحقیق میسر نه دی نو  عوام به یې څه وکړي. نو باید بې ځایه تعصب ونه کړو او هر مخالف په خپله عقیده کې مقصر او دښمن ونه ګڼو او د هغه لیرې کول نه دي پکار. مونږ باید په مذهب کې مخالفان له ځانه لیرې نه کړو  او هغوي خپل مذهبي  وروڼه وګڼو. او د اسلامي ضوابطو په چوکاټ کې له یو بل سره مرسته وکړ.

د شيعو په نظر کې امامت که څه هم له اصولو ګڼل کيږي نه له فروعو خو د مذهب له اصولو ګڼل کيږي نه د دين له اصولو. يعنې د امامانو منکر د شيعو له مذهبه وځي نه د اسلام له دينه.

سنيانو ته وايو که له اهل بيتو د پيروۍ وجوب ستاسو په نزد نه دی ثابت شوی مونږ څه نه وايو هو شيعه چې د اهلبيتو په پيروۍ عقيده لري بايد هغوي معذور وګڼئ.

شيعه په دې باب کې په ځينو روايتونو استدلال کوي چې ستاسو له لارې وارد شوي دي او د هغو اسناد او دلالت تمام ګڼي. نو که هغوي په حقه تللي وي تا سو د حقيقت انکار مه کوئ. او که په غلطه تللي وي نو تاسو يې د جدا کولو او ورسره د ښمنۍ کولو مستحق مه ګڼئ. مجتهد کله صحيح حکم ته رسيږي چې دوه اجره لري او کله هم غلطي کوي چې يو اجر لري. بالاخره د دواړو لورو هدف د رسول الله مبارک پيروي ده. چې اهل سنت د اصحابو او شيعه د اهل بيتو له لارې د هغه په لټه کې دي.

زما په خيال که منطق او انصاف ته مراجعه وکړو نوموړي مطالب تر ډيره حده د تعصب او اختلاف دوړي ختموي او د دواړو لورو فاصله کموي. او د اسلامي ورورولۍ لپاره زمينه برابروي. که خداي تعالی مسلمانان د بي تعليمه ملا نمايانو له شره خلاص کړي چې تر ناپوهو هم بد دي او همدا راز د پرديو ايجنټانو له شره.

۸ :د اتم مورد په هکله په وهابيت باندې يو نظر اواسلامي توحيد نومې کتاب ته مراجعه وکړئ. چې په موضوع باندې مفصل بحث شوی دی. او په هغه کتاب کې راغلي دي چې که تفسير کسب ته چې اشاعره يې مني په ښه نظر وکتل شي نو له هغه اختيار سره چې شيعه يې مني مطابقت پيدا کوي.

۹ : د نهم مطلب په هکله لاندېنۍ خبرې ته پام وکړئ.

اول دا چې د فقهي مذهبونو په انحصار باندې کوم معتبر دلیل نیشته.

دوهمه دا چې ځینو اهل سنتو عالمانو هم صریحافتوا ورکړې ده چې له څلورګونو مذهبونو بهر هم اجتهاد صحیح دی.

دریم دا چې امام صادق علیه السلام د ابو حنیفه ( رحمه الله ) استاد و. او د هغوي علمي او معنوي مقام ډیر لوړ و. او لړ تر لږه د څلور مذهبونو د امامانو له مقامه کم نه و نو باید له هغه پیروي د اهل سنتو په نظر کې څه باک او اعتراض ونه لري.

شیعه باید د حنفي فقې احترام وکړي او سنیان هم په جعفري فقه اعتراف وکړي. د جعفري فقې د حجیت او یا له جعفري فقې انکار داسې دی لکه له ضروریاتواو بدیهیاتو انکار. شیعیان باید په دې خپه نه شي چې سنیان ولې د اهل بیتو له فقې پیروي نه کوي ځکه چې د اهل سنتو په نزد د دغه پیروۍ ضروري والی نه دی ثابت ، اهل سنت چې په څلورو مذهبونو عمل صحیح ګڼي د شیعو عمل هم صحیح ګڼلی شي. لکه څرنګه چې د مصر د جامعه الازهر پخواني مشر شیخ محمود شلتوت دغه ډول فتوا ورکړې ده.

له دوي پوښتنه وشوه چې :

ځیني کسان عقیده لري چې د عباداتو او معاملاتو د صحیح والي لپاره په مسلمانانو واجبه ده چې په څلورو مذهبونو کې د یو پیروي وکړي او شیعه امامیه او زیدیه مذهبونه په دغه څلورو کې شامل نه دی ایا تاسو دا نظریه منئ او ایا د شیعه امامیه اثنا عشریه د مذهب له پیروۍ منع کوئ؟

دوي په ځواب کې وویل:

۱ :اسلام په هیڅ یو کس د یو معین مذهب پیروي نه ده واجبه کړې بلکه وایو
چې هر مسلمان حق لري

په ابتدا کې له مذهبونو د هر یو مذهب چې په صحیح توګه نقل شوی او احکام یې دهغوي په کتابونو کې موجود دي پیروي وکړي او هر یو کس چې له مذهبونو د یو مقلد شي بل مذهب ته ( هر یو چې وي ) اوړیدلی شي. او هیڅه منع نیشته.

په شیعه امامیه اثنا عشریه مشهور جعفري مذهب یو داسې مذهب دی چې منل یې د اهل سنتو د نورو مذهبونو په شان شرعا جایز دي.

نو ښه ده چې مسلمانان په دې خبره پوه شي او د خپل معین مذهب لپاره له بې ځایه تعصبه لاس واخلي. د خدای دین او شریعت د کوم خاص مذهب تابع او مخصوص نه دی. ټول مجتهدان دي او دخدای په نزد قبول شوي. د هغه کس لپاره چې په خپله مجتهد نه دی د دغه ټول اسلامي مذهبونو او دهغه

څه پیروي چې په خپلو فقو کې یې راغلي دي جایز دي او په دې حکم کې د عباداتو او معاملاتو تر مینځ فرق نیشته.

## ( د شیخ شلتوت لاسلیک )

دا تاریخي فتوا چې د دښمنانو ملا ماتوي او د سپین سترګو متعصبو خوله بندوي د ۱۳۷۸ هـ کال د ربیع الاول په اولسمه نیټه په قاهرې کې ورکړل شوې ده. او

د جامع الازهر له لوري د اسلامي مذهبونو د تقريق سرمنشي پوه او متفکر سيد محمد تقي قمي ته  رسما اعلان شوه. چې دا حکم د دار التقريب په رسمي اسنادو کې وساتي

مونږ د داسې لويو عالمانو په اروا سلام وايو.

**ب : فقهي فروعات.**

په ټولو اسلامي علومو کې په عالمانو کې د نظر اختلاف موجود دی. د علماوو افکار دهغوي د مخونو په شا ن مختلف دي. او همدا فکري تفاوت د عملي اختلافاتو سبب کيږي. او هيڅکله د انسان له زندګۍ نه جدا کيږي.

په فقهي مسائلو کې اختلاف نه يوازې په شيعه او سني کې موجود دی بلکه پخپله په سني عالمانو او دهغوي په مختلفو مذهبونو کې هم ډير زيات اختلاف موجود دی. شيعه فقيهان هم په  ټولو مسائلو کې يو نظر نه لري. او نظرونه يې مختلف دي.

بې له دې چې دغه اختلافات د يو بل احترام کم کړي. نو ولې د شيعه او سني ترمينځ فقهي ا ختلافات د دښمنۍ او له يو بله د ليرې کيدو سبب شي. ايا دا احمقانه نه ده ؟

هر مسلمان بايد په خپله عقيده او  عمل او سلوک کې شرعي حجت او د غاړې خلاصی ولري. خو  د حجت په تشخيص  کې تعصب او ضد نه دی پکار. سمه ده چې امر بالمعروف او نهي عن ا لمنکر واجب دی خو بايد په وينا او ليکنه کې ځينې اخلاقي نزاکتونه په نظر کې ونيول شي چې د ا حساساتو د تحريک او د دښمنۍ د پيدا کيدو سبب نه شي.

مونږ کولی شو د خپل مذهب د حقانيت لپاره کتاب وليکو خوبايد د خپل قلم خيال وساتو چې طغيان او تيری ونه کړي او د نورو د دښـمنۍ سبب نه شي.

په اسلام کې په فتوو کې اختلاف مشروعيت لري. او ټول پوهان هغه د يو نه انکاريدونکي واقعيت په توګه مني خو شرور کسان هغه جنجال جوړوونکې ګڼي. چې بايد د غه ډول کسانو مخه ونيول شي.

Pashtoketabton

# پینځم څپرکی

## قضاوت

ومولیدل چې شیعه او سني د دین په اصولو کې او په ځینو عقایدو کې یو شان نظر درلود او یوازې په نهو موردونو کې یې اختلاف درلود چې د هغوي د یو ځاي کیدو اوپخلا کیدو لاره مو هم وړاندې کړه نو بې له جهالته،غورو او یا د دولتونو له سیاسته  د ښمنۍ لپاره بل  څه  عامل او د دغو دوو طائفو د لیرې والي لپاره بل څه دلیل نه پاتې  کیږي. او د قران په حکم د مختلفو مذهبونو پیروان د یو او بل وروڼه دي.

انما المومنون  اخوة            مومنان د یو بل وروڼه دي.

بعضهم اولیاء بعض                 مومنان د یو بل دوستان دي.

دلته  د مسلمانانو د اتحاد د ضروري والي دوو نورو عواملو ته هم اشاره کوم.:

اول.، د ا سلام دښمنانو د اسلام د کمزورې کولو لپاره خپله ملا کلکه تړلې ده. او له هرې لارې چې وي  په اسلام ګوذار کوي. او په دغو زمانو کې مذهبي اختلافات دغه هدف ته درسیدلو لپاره یوه تر ټولو ښه لاره ده. نو کافران او دهغوي تالي څټي دغه مسئلې ته ژور نظر لري او همیشه یې ورته پام وي.

که مونږ خپل ساده توب پرې نه ږدو. هوښیار نه شو او د مذهبي تعصباتو په لومه کې ښکیل شو باید پوه شو چې  په ناغوښتي ډول  له اسلام او د حضرت محمد له دین سره دښمنۍ ته پاڅیدلي یو او د  دین د دښمنانو کار مو کړی دی. څومره بد بختي او تور مخي ده.

دوهم : نن په اکثر و اسلامي هيوادونو کې شيعه او سني او مختلف مذهبونه شته دي او اسلامي هيوادونه له اقتصادي او علمي نظره ډير وروسته پاتي دي او نالايقه دولتونه په خلکو حکومت کوي مونږ بايد هڅه وکړ وچې زمونږ د دنيا حالت له دغه بد حالته راووځي او که د مذهب په نامه له يو بل سره ښکيل شو بې له دې چې د خپل هيواد او خلکو د بد بختۍ سبب کيږو بل څه ګټه نه لري. ځکه چې نه شيعه له منځه ځي او نه سنيان او نه دهغوي مذهبونه. هو، خسر الدنيا و الاخره، هو الخسران المبين، په متعصبانو صدق کوي. خو که په ورور ولۍ سره په ښيګړه او تقوی کې د يو بل مرسته وکړو د خپلو خلکو د د نيا او اخرت د نيکمرغۍ لپاره کار کولی شو. هو مسلمانو ورونو

جان گرگان و سگان از هم جدا است

متحد جانهاي شـــــــيران خداست

Pashtoketabton

# د اتحاد اساسي لاره

زما په نظر د اتحاد لپاره او د توهماتو بد بينيو او ليرې والي او لږ ترلږه د دغه مسلو د مخنيوي لپاره يوازينۍ لاره په اسلامي هيوادونو کې د شيعه اوسني طلابو د ګډو مدرسو جوړول او په يو ځاي او دمشترکې فقهې او حديثو، تفسير، او عقايدو ښودل دي. په دې ډول د ديني علومو طلاب يو بل ښه درک او پيژندلی شي. او د يو بل له عقايدو خبريدلی شي او له يو بل سره متحد کيدلی شي. په ادبي علومو منطق وغيره کې بايد درسي کتابونه يو شي. او په څلورګونو علومو کې د خپل مذهب پر فقهي کتابونو سربيره د نورو مذهبونو کتابونه ( عقايد، تفسير، حديث او فقه ) د مقارنې او پرتلې په توګه تدريس شي او همدا طلاب سبا زمونږ مذهبي مشران دي. او عوام به داتحاد او يو والي په لور بيايي. او د پرديو او بهرنيو او د داخلي بيسواده او متعصبه ملايانو د فتنه جوړولو مخه نيسي.

Pashtoketabton

# خاتمه

## شیعه دم ګړی د امامت له نظره درې فرقې لري.

امامیه اثنا عشریه. چې دشیعه اکثریت  جوړوي، زیدیه چې څلور امامان مني او د څلورم امام ( حضرت زین العابدینه ) ورسته د زید  بن علي په امامتۍ قا ئل دي. اسماعیلیه چې شپږ امامان مني او له امام جعفر صادق ( ع) وروسته د اسماعیل او یا د هغه د زوي محمد په  امامت قائل دي. د اسماعیله فرقې او یا د هغوي د ځینو څانګو په هکله ډیرې خبرې شته.

د فقې له نظره شیعه دوه مسلکه لري :

اصولي او اخباري. چې  فرقونه یې ډیر کم دي او اخباریان ډیر زیات  لږکي دي.

سنیان د عقائدو له نظره دوه ډلې دي.

اشاعره  چې اکثریت دي. او معتزله چې شاید اوس ډیر محدود او  ګوته په شمیر وي. او دوي عقلي احکام نه مني. البته یوه دریمه ډله هم باید له هغوي سره یو ځاي کړ واو هغه وهابیان دي.

او له فقهي نظره په څلورو مذهبونو ( حنفي، مالکي، حنبلي، اوشافعي ویشل کیږي.  چې په اسیایي هیوادونو کې اکثریت حنفي مذهبه دي او ځینې  له دغو مذهبونو بهر اجتهاد هم مني.

ان  هذه امتکم امة واحده و انا ربکم فاعبدون.

Pashtoketabton